# د پناه غوښتونکو لپاره د انتظار وختونه

**ډېر شمېر پناه غوښتونکو د خپلې پناه غوښتنې د ځواب لپاره ډېر وخت انتظار کړی دی. موږ پوهېږو چې انتظار کول ستونزمن دي.**

## اوسمهال موږ لاندې قضيې تر څېړنې لاندې لرو:

موږ د ۲۰۲۶ کال تر اوړي پورې د هغو کسانو د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه څېړو چې:

- په ۲۰۲۳ کال کې يې د پناه غوښتنه کړې ده
- د ۲۰۲۴ کال د جنوري او جون مياشې تر منځ يې د پناه غوښتنه کړې ده

موږ نه شو کولای چې له اوړي څخه مخکې ټولې قضيې وڅېړو. عمومي قاعده دا ده چې موږ زړې قضيې لومړی څېړو.

## د کډوالو د چارو اداره (UDI) ستاسو قضيه څنګه څېړي؟

### ځينې قضيې ژر څېړل کيږي

له بېلابېلو هېوادونو څخه يو زيات شمېر وګړي د پناه غوښتنه کوي. د کډوالو د چارو اداره نشي کولای چې ټول غوښتنليکونه سمدستي وڅېړي. د لاندې کسانو غوښتنليکونه بايد ژر وڅېړل شي:

- هغه کسان چې قضيې يې د دوبلين د مقرراتو له مخې ارزول کيږي، چې په ډېرو مواردو کې بايد ياد کسان بل اروپايي هېواد ته ولاړ شي تر څو د پناه غوښتنې غوښتنليک يې هلته وڅېړل شي.
- هغه کسان چې د کډوالو د چارو د ادارې (UDI) په باور په ښکاره ډول پناه ته اړتيا نه لري، لکه هغه کسان چې له يوه خوندي هېواد څخه راغلي وي او کولای شي سمدستي بېرته هلته ولاړ شي.
- هغه کوچنی چې ماشومان لري او هغه ماشومان چې له مور او پلار يا سرپرست پرته راغلي وي.

که تاسو په پورتنيو ډلو پورې تړاو ونه لرئ، کېدای شي ډېر وخت ونيسي چې تاسو د پناه غوښتنې مرکې ته راوبلل شئ او غوښتنليک مو وڅېړل شي. دا په دې مانا نه ده چې ستاسو په قضيه کې کومه ستونزه شتون لري يا دا چې موږ تاسو له پامه غورځولي ياست.

### کله چې تاسو د پناه غوښتونکو د راتګ په ملي مرکز کې ژوند کوئ

ټول هغه کسان چې په ناروې کې د پناه غوښتنه کوي، بايد لومړی خپل غوښتنليک د پناه غوښتونکو د راتګ په ملي مرکز کې راجستر کړي. دلته تاسو يوازې د لنډ وخت لپاره پاتې کېږئ، ځکه چې د نوو پناه غوښتونکو لپاره بايد ځای موجود وي.

ډېری کسان بايد د پناه غوښتونکو عادي کمپونو ته ولېږدول شي او هلته د پناه غوښتنې مرکې او ځواب ته انتظار وباسي.

پناه غوښتونکي نشي کولای چې پخپله وټاکي چې مرکه دې ورسره د پناه غوښتونکو د راتګ په ملي مرکز کې ترسره شي. دا په دې پورې تړاو لري چې په یو وخت کې څومره کسانو د پناه غوښتنه کړې ده.

## کله چې تاسو د پناه غوښتونکو په عادي کمپ کې ژوند کوئ

که د کډوالو د چارو اداره (UDI) له تاسو سره عادي کمپ ته له لېږدولو مخکې مرکه ونه کړي، نو کېدای شي ډېر وخت ونیسي چې له تاسو سره مرکه ترسره شي او ځواب درکړل شي.

دا د انتظار په وخت هېڅ اغیز نه لري چې تاسو د ناروې په کوم ځای کې په کمپ کې اوسېږئ.

## که تاسو په شخصي استوګنځي کې اوسېږئ

که چېرې تاسو په شخصي توګه اوسېږئ، لکه له کورنۍ یا ملګرو سره، د انتظار موده د هغو کسانو په شان ده چې په عادي کمپونو کې اوسېږي. دا ډېره مهمه ده چې تاسو موږ ته خپله پته، برېښنالیک او د تلیفون شمېره راکړئ، تر څو چې موږ وکولای شو له تاسو سره د پناه غوښتنې د مرکې او ځواب په اړه اړیکه ونیسو.

## د انتظار په وخت کې به د کډوالو د چارو اداره (UDI) ستاسو له قضیې سره څه کوي؟

کله چې تاسو د پناه غوښتنه کوئ، موږ ستاسو غوښتنلیک په نوبت کې ږدو تر څو چې زموږ د قضیو یو څېړونکی وخت پیدا کړي او ستاسو قضیه وڅېړي. دا په دې مانا ده چې ستاسو قضیه تر هغې پورې د کډوالو د چارو په اداره (UDI) کې مسؤل مامور نه لري، تر څو چې مرکې ته راوغوښتل شوي نه یاست. د یادولو وړ ده چې موږ هېڅ قضیه نه هېر وو.

## مرکې ته رابلل ولې ډېر وخت نیسي؟

د کډوالو د چارو اداره (UDI) د پناه غوښتنې د مرکې لپاره معمولاً یوه بشپړه ورځ ځانګړې کوي. هره قضیه پوره پلان جوړونې ته اړتیا لري؛ له همدې امله، له ټولو هغو کسانو سره مرکه کول چې ناروې ته راځي، وخت نیسي.

## له مرکې وروسته د ځواب ترلاسه کول څومره وخت نیسي؟

په ډېرو قضیو کې د کډوالو د چارو اداره (UDI) کولای شي له مرکې وروسته ډېر ژر ځواب درکړي، خو کله ناکله موږ ډېر وخت ته اړتیا لرو. مخکې له دې چې ستاسو قضیه وڅېړ، کېدای شي اړتیا وي چې ستاسو له خوا ورکړل شوي معلومات یا ستاسو د هېواد حالات په دقت سره وڅېړو. ټولو ته ځواب ورکول کېږي.

## آیا تاسو کوم داسې څه کولای شئ چې قضیه مو ژر وڅېړل شي؟

که تاسو د هویت اسناد لرئ چې تر اوسه مو پولیسو ته نه دي سپارلي، نو باید ژر تر ژره یې وسپارئ.

- که تاسو د هویت اصلي اسناد لرئ، باید د خپلې استوګنې د سیمې پولیسو ته یې وسپارئ.
- که له تاسو سره د اسنادو فوتوکاپي یا عکسونه وي، باید هغه د کډوالو چارو اداري (UDI) ته واستوئ.

دا مهمه ده چې د کډوالو د چارو اداره (UDI) له مرکې څخه مخکې ستاسو د قضیې ټول اسناد ولري. دا په دې کې مرسته کولای شئ چې قضیه مو له اړتیا څخه زیات وخت و نه نیسي.

## د کډوالو د چارو اداره (UDI) تاسو ته د انتظار د وختونو په اړه کوم معلومات درکولای شي؟

ګڼ شمېر کسان د کډوالو د چارو له اداري (UDI) سره اړیکه نیسي تر څو د خپلې قضیې د انتظار د وخت په اړه پوښتنه وکړي. موږ د تلیفون له لارې د انتظار د وختونو په اړه له هغو معلوماتو پرته نور معلومات نشو ورکولای چې د کډوالو د چارو د اداري په انترنېټ پاڼه udi.no کې شتون لري.

که چیرې موږ ستاسو د قضیې د څېړلو لپاره لا زیاتو معلوماتو ته اړتیا ولرو، په دې هکله به له تاسو سره اړیکه ونیسو.

## آیا امکان لري چې ستاسو غوښتنلیک په نوبت کې مخکې شي؟

ډېر هغه کسان چې په ناروې کې د پناه غوښتنه کوي، غواړي چې قضیې یې ژر وڅېړل شي. ستاسو په حالت کې باید کومه ځانګړې ځانګړتیا شتون ولري تر څو قضیه مو له خپل نوبت څخه مخکې وڅېړل شي.

---

## د معلوماتو تازه کول

د انتظار د مودې په اړه دا معلومات د ۲۰۲۶ کال د اپریل په میاشت کې تازه شوي دي.

یاد معلومات به د ۲۰۲۶ کال د جولای میاشتې د لومړۍ نېټې څخه مخکې، یا هغه مهال تازه شي چې د پام وړ بدلونونه پکې راشي.